دا یو غرپ غبرورنا، (دعا ځان سپارل دي)

تاسو (            ) ته، په ټول درنښت ډالۍ شو؛

د زړونو او ذهنونو، د روښنایۍ په نیت یې وڅښئ!

مینه اکادمي

# دعا ځان سپارل دي

Ketabton.com

**نذرانه‌وال: محمد انور وفا سمندر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خدای تعالی په نامه،**

**چې له نامه نه يې، د خالصې مينېورحمت عطر، زموږ پر زخم زخم زړونو، را اوري!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دعا؛ يعني ځان سپارل

اى هغه، چې ټول نومونه،

او ټول کلامونه،

او ټول غږونه، ستا د بې‌نومه نوم، تلاوت دى!

ځان، ذهن، حواس، روان...هرڅه سپارم!

غواړم ستا د ارادې په باد، سېل او توپان کې، ريزمريز شم!

غواړم د ارادې غوړېدلى فصل دې شم!

غواړم شېبه شېبه، ددغه عشق خوراک واوسم!

غواړم دا مينه، راته فکر شي،

راته ذهن شي؛ شعور شي،

اراده شي او دريځ شي؛

د ما کړنې شي.

او: غواړم شېبه شېبه دغه ويښه ولرم.

## هغه، حتا تر تصوره هم نېږدې

هره نعره او هره چيغه، د هستۍ مبدأ پسې ده!

درحالې چې «هغه»، نېږدې دى،

ښه ښه نېږدې؛

حتا زموږ د افکارو له غږه هم نېږدې دى.

غوږ نيول، د وينا خالص شکل دى.

## هستي د خدايي مينې مادي څېره

عشق، د بې‌قيدوشرطه لورينې، نوم دى.

او مينه، د اګاهۍ خالص وضعيت دى.

هر ژوندى موجود- په فطري ډول- مينه کولاى شي.

## سپېڅلې بې‌غرضي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند د سپین غر،

هغه نامکتوب او جنتي غر،

نعره ده.

ژوند، د خدایي ارادې ګلستان دی.

تېټ‌ولوړ،

اصیل‌وبدل،

مثبت‌ومنفي،

یو مخ، ذهني مفاهیم دي.

ژوند سپېڅلی دی او دا سپېڅلتیا، هغه مهال تجربه کېږي، چې

ژوند ته په بې‌غرضۍ وګورو.

## د زړه وړوکی کیهان

د زمانې د حکمت په وینا:

«ټوله تالیف شوې پوهه‌وخرد او حکمت، له حقیقت سره نه‌شي برابرېدلای.»

حقیقت موندلو له‌پاره،

د ژوند ناتالیف شوې نغمې ته، غوږ شئ.

هغه نغمه، چې د چنار د پاڼې، له نخا نیولې،

د «ایوب‌لیوني!» تر شربت غړه پورې، ټول ژوند یې، غړوي.

## خدایي ارکستر

ژوند خدایي ارکستر دی.

د ټول ژوند په اورېدلو سره- هغه هم له هر راز غرض پرته-

عشق، حکمت او آزادي زموږ وړوکي،

دنننې جهان ته جاري کېږي.

د کار پیل، د یوه خلاص او مهربانه زړه لرل دي.

## د هر رنځ دوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه خدایه!

ستا مینه هرڅه ته پوره ده!

مینه، د ټول ژوند بنابست ده.

مینه، د ټول ژوند اړتیاودوا او خدایي ابادي ده.

## ټوله ښېګڼه

ژوند، په مادي- ذهني وضعیت کې،

د روح لهخوا، جوړ داستان دی.

موږ خپل تل کې، د پټ خالص غرورنا،

هندسي شکل یاستو.

مینه، د ټولې هغې ښېګڼې نوم دی،

چې موږ به یې د فکر، وینا، دریځ،

او عمل له لارې، ځلوو.

## انسان د خدایي غږ کنډولی

زړه مې ؤ، د مینې اکادمیسن چېرې غلی وپوښتم،

چې ته ولې ځان او خپل سپین شعور، په خلکو خورې!؟

والله که دې څوک په مولی هم وحسابي!

هغه چې را پیدا شو، په دې راته لګیا شو:

«پرېږده، چې ټول راته لیوان شي!

پرېږده، چې ټول راشي، ما لوټ کړي،

څرمنه را نه وباسي.

اندام اندام مې، شنې غوښې وغورځوي،

او خپل نفسغضب، ورباندې تش کړي!

زه به څه له لاسه ورکړم!؟

زه څه لرم، چې له لاسه یې ورکړم؟

انسان څومره مادي عقل دی، چې ځان ماده- ذهن ګڼي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان ماده او ذهن ګڼل،

د مرګ لەپاره، د ښکار غوښه جوړوي!

انسان نه دادی، نه هغه دی؛

فقط له اوبو، خاورو جوړ منګوټی دی. او بخت یې په دې جوړېږي،

چې د خدايي غرورنیا، د مقدس ځښاک کنډولی شي.

## جهان د خدايي ارادې شکل

موږ د خدايي ارادې په پيداوارو کې (شتون/ بودن) لرو.

پرته د خدای له ارادې، بل هېڅوک- هېڅ شی، نەدیونەشته!

موږ دروغو ښکار کړي یو. دنیا مادي ګڼه،

او د شهرت چاغښت ګڼو!

یوازې خدای شته!

او ژوندی اراده یې،

چې د جهان په بڼه ځلېږي!

جهان، د خدايي ارادې، حاضر ګلستان دی.

## هرڅه د خدای په اراده کې

د مینې اکادمیسن، سهارنۍ دعاګانې هم، بې څه نه دي. وايي:

«ای هغه، چې ټوله (پوهه، ازادي او مينه) له تا را بهېږي!

زه ستا په غوښتنه خوښ یم.

ځکه، چې هېڅوک او هېڅ شي،

ستا له ارادې نەشي مخکې کېدای!»

## د ځان ابديت

آیا دا ریښتیا دي؛ دغه (وجود) زما دی؟

له کومه مې کړ؟

ریښتیا؛ زه څه شی یم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه بې‌وزنه، بې‌جسمه، بې‌شکله (هسته)،

چې د ابدیت له کوره،

دغه بدن کور کې، دېره شوې.

دا هغه (زه) دی،

چې د ساینس او عقل او منطق له سواد، لوړ دی.

یوازې مینه کولای شي، دومره رڼا جوړه کړي،

چې د «ځان»، ابدیت ولیدل شي.

## مینان د هستۍ کاشفان

غواړم عاشق واوسم!

عاشقان، د خدایي ارادې حاضرې څېرې دي.

قدرت یې اخلې، لکه د بل ژوند، آزادي‌ومال، چې اخلي!

عشق یې ورکوي! لکه؛

نورو ته خندا، ښه احساس، آسودګي، ډاډ، ازادي او خوندیتوب او خپل هرڅه.

مینان، د هستۍ کاشفان او فاتحان دي.

مین په‌خپل فکر، دریځ‌وعمل سره، خدایي اراده معرفي کوي.

## ابدیت کې هستوګنه

غواړم د معنوي ازادي اګاهۍ ته ننوزم.

په معنوي آزادۍ سره، د هستۍ حقیقت ترلاسه کېږي.

د زمان‌ومکان سیورې الوزي،

او حقیقت په دغه شېبه بدلېږي.

بیا ته دغه شېبه، هرځای، او هر وخت، حضور لرې.

دا په ابدیت کې، هستوګنه ده.

## د ټولو هرڅه

ای د مینې هرڅه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرسته راسره وکړه، چې شيبه شيبه دې،

په خالصه مينه راويښ، او خبر واوسم!

غواړم د مينې ستر سېلاب ته دې لاره،

گودر او مجرا واوسم!

ته په مينې سره هرڅه،

او د ټولو هرڅه يې!

## خدای چې لرې؛ وېرې نلرې!

ای له هر راز ستايلو، وېلو او پېژندلو کامله!

غواړم شېبه شېبه- په ټوله هستۍ او هرڅه، مين واوسم!

غواړم شېبه شېبه ويښ واوسم،

چې افکار مې،

انگېرنې مې،

باور مې،

دريځ مې، او کړنې مې؛

د بل هېڅ وگړي، (سر، آزادۍومال) ته تاوان ونه ړوي!

بيا نو له هېڅ شي نهوېرېږم!

## د ابديت ناتمامه دبدبه

ای مينې او د خالصې مينې خاونده!

که يوه شېبه بې‌مينې، تېره کړم؛

نو خپله لاره دوزخ ته خلاصوم.

عشق کامل دی.

او دا هغه وخت درک کولای شم،

چې ځان خوشې شي،

د ابديت په ناتمامه دبدبه کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خدای پر مینه ایمان

«دعا؛

ای د نوروکلام ستره دریابه!

دغه شېبه مرسته وکړه، چې پر مینه دې ،خبر او بااېمانه، اوسم!

غواړم دا مینه راته فکر شي، باور وګرځي!

غواړم دا مینه، ټوله اراده ووینم!

غواړم له ژوندۍ مینې ته، فکر شم، ژبه شم،

لاس شم او پښه شم!

غواړم ناتمامه هستي، ددغې مینې ژوندی سرود ووینم!

غواړم (مینه) ووینم.»

(د مینې اکادمیسن تلیفوني دعا)

## د مینې لیدلو دعا

ای تر ټولو نومونو او کلامونو لوړه څښتنه!

شېبه شېبه مرسته وکړه، چې پر مینه دې خبر او ایمان ولرم.

غواړم دا مینه راته فکروباور، کړم.

غواړم دا مینه خپله اراده ووینم.

غواړم ددې مینې لهپاره فکر، ژبه، لاس او پښه شم.

غواړم ناتمامه هستي، ددغې مینې ژوندۍ نښه، ووینم.

غواړم (مینه)، ووینم.

## له خدایي مینې پرته بله هره دعا دروغ ده

«زه خپل زړه او لاسونه، خدایي ارادې ته ډالۍ کوم.

زه هېڅ نهلرم او هېڅ نهغواړم.

زه د خدای تعالی په غوښتنه، خوښوراضي یم.

یوازې خدایي غړورنا،

چې د هغه د عشقورحمت، له سمندره را اوري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بقا راکولای شي.

له دې پرته، بله هره غوښتنه، دروغ ده!»

## ځان د خدایي غبرورنیا ابدي بخرکی

لویه خدایه!

زه څه یم، چې څه وغواړم؟

ځان، د خدایي غبرورنیا، تالندو او برېښناو،

موجونو او ګړنګونو ته سپارم!

زه څه یم، چې څه وکولای شم!؟

ځان، خدایي غوښتنې ته سپارم!

زه څه یم، چې څه وکولای شم؟

ځان، د خدایي غبرورنیا، سمندر لهپاره، پاک کنډولی غواړم.

## ځان د خدایي ارادې فصل

لویه خدایه!

ستا اراده، ژوندۍ معجزه ده.

ستا اراده د غبرورنیا، په څپو سپره،

د عشق‌ورحمت، له اقیانوسه،

را روانې د حیات، اوبه دي.

او ټولې هستۍ ته سا ورکوي.

د مهربانۍ له مخې، زما ذهن، احساس، عاطفه، روان او اراده،

ددغې سترې معجزې، کښت او فصل وګرځوه!

## ګل د عشق کلمه

اوس دا لمر ده، چې پر ګلونو یې اور بل کړی؛

که نه ګلونو، په لمر اور بل کړی!؟

آیا د (ګل)، د سوزولو څوک دي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

گل هماغه عشق ده.

عشق تر اور- اوبو وتلی.

اورواوبه- یو بل خوړلو په شېبه کې به،

څه سره وايي؟

## مېېن د هستۍ د اشنا او نااشنا رودونو لامبوزن

د خوب سپوږمکۍ، د مکان‌وزمان ها غاړه، سیاحت راباندې کولای شي.

که په پښو ځو، نو پېړۍ یې وبولئ،

چې پر دغې خاورینې دنیا راتاو شو!

د زړې زمانې قاطر، آس، بګۍ،

یا راوروسته باېسکیل، موټرسایکل، موټر،

یا تر هغو قیمته بېړۍ، الوتکه،

یا د اوس زمانې سپوږمکۍ،

دا ټول لېږدونکي خره دي، چې لاره لنډوي.

خو د خوب سپوږمکۍ په شېبه کې،

له مادي حواسو او ذهني عقله هاغاړه، نااشنا جهانونه راباندې وړیا ګوري.

دې بې‌شانه سفرونو ته مو، څومره پام ور غلط کړی؟

یوازې مېینان زړونه، دومره وس لري.

مین واوسئ،

وینښه او خوب به مو د هستۍ، د تازه اړخونو کشف او پېژندل وي.

## د نفس وړی لیونی

چې له دې څلوېښت کلن «اور- بحران» فصله، وتي وای!

او داسې یوه ګوښه کې مو، ډېره وهلې!

او بیا مو د اوبو پر ډډو،

او د ونو- بوټو پر رنګینو کاکولونو،

د لمر د مچکو نڅاه ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه غوړونه سپارلي وای.

ووایئ، د چا کور به وران شوی ؤ!؟

اخ! ژوند، خوښي، ارامي،

آزادي او هوسایي،

د چا د بخل خوراک شوه!؟

اه، دا نفس څه اژدها، وړی دی!!

## مینه او ذهن‌ټکاني

افکار مو د سبا ورځې درمند دی.

اوس نو دا ووایئ څه شی ارزي، چې ذهن کې ځای ورکړو؟

آیا ځانونو سره دومره مینه لرو، چې سبا ورځ،

د مینې حاصلات، ټول کړو!؟

نو وخت یې نه‌دی، چې یوه ښه،

«ذهن‌ټکاني» وکړو؟

## د لمر طلایي روپۍ

موږ هره هره ورځ،

دا طلایي سکه- له خدایه- ډالۍ ترلاسه کوو!

د لمر روپۍ، د ژوند د کروندې جنت دی.

مینه، یعنې د مینې ورکړه- پرته له څه توپیر او حساب‌نیونې!

لمر وړیا اوري؛ ځکه نو «شته!»

## سهارنۍ ډالۍ

هر چا و شي او هر منظر کې، راټوله ښکلا،

تنوع جوړه کړې.

ګلان او بې‌شعوره بوټي،

کولای شي د یو بل له تنوع سره، ښاد ژوند ولري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زما بنیادم ورور،

نه‌شي کولای، خپل ځنګ کې، د فکروخیال،

تنوع ووینې!

له ځلوېښت کلنې غمیزې،

ددغې ذهني- نفسي، نژادپالنې، خوسا بوی پورته دی.

څه فکر کوئ، څه وخت به،

د فکرونو تنوع، پر دغه (ډېرزمکه) رواېښت مومي!؟

## ژوند آسماني ځاځکی

ژوند، آسماني ځاځکی دی،

راشي، د زمکې پر اتشفشانونو- سیندونو،

همالیا څوکو،

او ساحل شګو کې پټ شي.

د بزګر د لاس تڼاکې غنم شي،

وربشې شي،

او یا د چا د شوق په اور کې،

خمخانو ته، ورولوېږي!

ژوند له آسماني کوره را وغورځي،

د پسرلي غاټول شي،

یا د واخان د مارکوپولو غرڅې،

ښکلا راوړي.

ژوند، زمکنۍ څېره راوړي:

د زرګر تر زیرک نظر لاندې،

«کوهېنور» شي، یا د بدخشان لعل‌ومرجان!

ژوند د غروریا بې‌متنه، بې‌غره،

او بې‌شکله شعر دی.

او خاورینه دنیا کې، د «رومي» په ژبه، «مثنوي» شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا د لیوني «غني» له زړه نه،

د (وجودکعبه)، فواره وکړي،

یا ساده سپین سپین، ګلان شي.

ژوند؛ خدایي برکت.

باید له ځان او نورو سره، روغه وکړو: همدا نن، همدا اوس!

کولای شو، میښان یې، کولای شي!

## طلایي رنګ او منی

منی، د فصل د پخیدو رنګ دی.

الماس، طلا، نقره...

د مادې د اوږده درد او زحمت محصول دي.

نو چې څه وخت به، زموږ دا نیمه پېړۍ غځېدلی اورنی درد،

د سپین عقل، حاصل راوړي!؟

آیا اماده یاستو، چې د هر بل وګړي،

(سر، ازادي او مال) ته، د درنښت په سترګه وګورو!؟

ذهن وایي:

زه اماده یم؛ خو نور «بد» دي!

زړه وایي: «هو!»

لویه خدایه!

د بل چا سر، ازادي او مال، پر ما حرامه وګرځوې!

## وخت یې دی؛ له یو بل ډېره کول

که خپله دغه لیونۍ او له کنتروله وتلې انرژي،

د شخړې او بحران د جوړولو له کاره،

د اقتصادي او فرهنګي تولید خوا ته، راوګرځو،

دنیا به مو ګلستان نه‌شي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا ځانونه د یوه داسې ژوند ور نه ګنو، چې

د ټولو [سر، فکرومال] په‌کې خوندي وي؟

که داسې وي؛ نو دا نیمه (انقلابي!) پېړۍ،

په ځناورتوب نه ده مصرف شوې!؟

راځئ، مینې، پخلاینې او د یوه بل له سر، ازادۍ او ماله،

ډډې کولو ته، ملا وتړو!

## انسان د نفس مستعمره

ولې نه‌شو کولای، د طبیعت دغې ارتې غېږ ته، ګام کښېږدو؛

د ونو پر څنګ دده ووهو؛

د څروبي، بې‌شعره موسیقۍ ته، غوږ کښېږدو؛

او ددې هرڅه شکر ادا کړو!؟

نیمه پیړۍ وشوه، چې ایډیالوجي، د ژوند او ژوندو ترمنځ، (ذهن‌دوزخ) ودرولی، دی.

د انسان له هر قتل، د هغه پر فکر پابندي لګولو او مال چورتالان څخه؛

د ذهني نفس، ککړ بوی راځي.

خدايي ژوند، د نفس په مستعمره بدل شوی!

هی هی، مینې ته څومره تږي یو!

خو د مینې قانون وایي، چې د مینې ترلاسه کولو له‌پاره به،

لومړی خپله مینه کوې.

## کتاب هم دوزخ کېدلای شي

ننني تمدن تقریبا ټول له کتاب او د انسان له خلاق تخیل نه راوتی دی.

خو دا د تېرې نیمې پېړۍ شخړې او ناورینونه هم له کتابو راوزېږېدل.

داسې ورځ هم شوه، چې پر کاغذ د توپ او ټوپک رسمونه،

راشنه او د ماشومانو پر زړونو او ذهنونو،

ور واکسین شول.

د داسې ورځ په هیله، چې کتاب د فرهنګ، مدنیت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ژوندي روحانيت متنونه،

شعرونه او لارنقشې، شي!

## ذهن د فيل خرطوم چټل‌نويس

ځنې زړونه د لوستلو وړ دي.

مينې اکادميسن ته چې ګورې،

ګنې چې د اوبو شعر ځښې،

او د عشق‌ورحمت له اقيانوس سره، رازونياز، لرې:

«لويه خدايه!

غواړم ټولې هستۍ ته وقف واوسم!

غواړم دا نن؛ دا اوس ورته خوله‌وژبه شم،

لاس او پښه شم او د ځان په نامه، هېڅ ونه وايم!

ستا هستي دې، ما خپله لاره کړي،

له ما دې وغربېږي،

او خپل ژوندی کتاب دې،

د يوه يوه ژوندي، د زړه غوږ ته ورسوي!»

هستي د عشق له مسوليته ډکه-زما، ستا، هغه-

په ښه ځرخېږي.

خو؛ زموږ د کارخانګي کتابچه، د مولانا رومي،

د فيل د خرطوم[1] په چټل‌نويس، ډکه ده!

## د ازادۍ ورمه

ژوند، څه رنګينه نقاشي ده!

نن په زړه عجب خوند راګرځېدلی دی؛

---

[1] مولانا رومي، د تمثيل په بڼه تياره کې د يوه ودرول شوي فيل کيسه راوړي، چې څوتنه يې نندارې ته وروستل کېږي. ليدونکي، چې په تياره خونه کې يې- د چا لاس د فيل په خرطوم، د چا د فيل په لکۍ، د چا د فيل په سترګه...لګېدلی و، رڼا کې د فيل په اړه خپلې تجربې بيانوي. يو وايي فيل غټه سترګه ده. بل وايي چې فيل خرطوم دی، بل وايي چه نه فيل غټه پښه ده... له دې تمثيله د مولانا رومي مقصد، د يوه خدای په اړه د بېلابېلو ذهني‌واصولي مذهبونو، د نيمګړو تصوراتو او انګيرنو ته اشاره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې زما ګاونډ کې د يو لوی ولس،

پر ذهن او روح راتاوی شوي ځنځيرونه،

د ازادۍ د وږمې په وړاندې، ايمان بايلي!

(ايران کې د بنزينو په بهانه راولاړی شوی ولسی پاڅون په ياد)

خدايه، ستا اراده دې د د ټولو له‌پاره، د ژوند پسرلی شي.

## هرڅه د خدای په‌خاطر خوشې کول

شپه ده.

او د هر راز فزيکي، ذهني او حسي فعاليت پرېښوولو شېبه.

نو د غړورڼا د استاد په خبره: « هرڅه چې لرم، ټول د خدای په‌خاطر، خوشې کوم.»

شپه مو د غړورڼا په بې‌شکله دنياګانو کې،

له مينې ډکې غورځې پرځې واوسه!

## روح د خدايي مينې په غېږ کې

هغه څه چې خدايي سړي، د غړورڼا له غسل وروسته، ترلاسه کړل:

«خدای تعالی په هرڅه پوه ؤ.

ځکه نو د خدای د مينې ځواک، زما افکار اداره کول.»

کاپي

## ډالی!

هغوي ته چې هېڅ‌مهال يې، د چا د تن، ذهن، روان،

او عاطفې په قتل، لاس نه‌دی پورې کړی.

ډالی؛ هر هغه انسان ورور ته، چې ځان پرې ګران دی،

خپل خلک پرې ګران دي،

ژوند پرې ګران دی.

او د ژوندو عاشق ښتن ورباندې ګران دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شکر خدای ته نېږدې عبادت

خدايي سړي ووېل:

«زده مې شول، چې په هر حالت او هرځای چې اوسم، خوښ او راضي واوسم.»

کاپې

## بيخي نوې ورځ

زه د خدای په غوښتنه، خوښ يم.

آيا بله غوښتنه شته؟

خدايا، ستا غوښتنه غواړم!

ذهن، خوله، دريځ او کړنې،

لاس- پښې،

ستا، غوښتنې ته سپارم!

## د روح تل جاري نغمه

«هغه داسې خاموشه همسفر ۀ، چې د خولې سازونو، د بې‌اهنگه غړولو،

يا ګډو وډو سندرو په‌خاطر يې، شکايت نه کاوه.

هغه زما د زړه زمزمې ته غوږ ايښی ۀ .

ما د هغه خالص روح، د هغې مينې په‌خاطر، ژوندی کاوه،

چې د هغه له دننه را وتله.»

## په شېبه کې هرڅه نوي دي

نوی او دغه تازه سهار مو،

نوې او دغه بې‌جوړې ورځ مو،

نوی او دغه تازه پيل شوی برخليک مو،

د ژوند، خوښۍ او مينې-لورينې، له نغمو ډک اوسه!

## اوس د هرڅه د پېلېدلو زمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

«دغه نن، دغه اوس؛

سر له دې اوسه؛

داسې يو ژوند جوړ کړه،

چې خوښېږي دې!»

## اوس، نوې زمانه

ورځ نوې ده، دغه شېبه نوې ده؛

نو ټوله هستي نوې ده.

## د هرکار لهپاره مينه مخکښه کړه!

خو آيا زه او ته هم نوی يو؟

فکر، انګېرنې، اخلاق، دريځ او چلند مو، نوی دی!

او که دودپال، بېروحه او ناخوښه!؟

اجازه راکړئ، چې دغه نوې ورځ کې، ځان او تاسو ته،

د يوه نوي فکر،

نوي دريځ،

او نوي چلند، مبارکي ووايم.

په ياد مو وي؛

که مينه را پهکې مخکښه وي،

نو هرڅه به مو نوي، ځوان او له انرژۍ ډک وي.

## ځان ورخوشې کړئ، د کيهان غېږه پرانستې ده

شپه ده.

او د خيال ببرۍ، د خدايي زمکو په ناپايه قلمرونو کې،

الوت ته آماده.

موږ- د روح په توګه- ددې وس لرو چې

د خوبونو کړکۍ له لارې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمان‌ومکان له اقلیمونو،

د غرورنیا جنتونو ته، ور وغورځوو.

له ذهني- حسي ککړتیاو او بارونو خوشې شئ!

او غېږې خلاصې کړئ،

چې د لېږې زمکو کوهنوردان مو،

(خدایي‌کور) په لور، د لوړولو مسؤولیت، په غاړه واخلي!

په دې چلند سره موږ یوازې، د ویرې ذهني طلسمونه له لاسه ورکوو.

که مېبن واوسئ، هرڅه شوني دي.

## قاتل حواس او د زړه نغمې دوا

هر یو څومره سترې یو!

په خوله، په احساساتو، په دریځ او په کړنو مو،

د یو بل گریوان څېرې څېرې غورځولی؛

شهید پروت دی!

زموږ ذهني، عاطفي، رواني- حتا دا غوښن لاسونه،

د «بل» د ژوند او حیا په وینو، سره دي!

نو!

اوس، دغه اوس؛

څومره مو زړه غواړي، تېر هرڅه پرېږدو او هېر یې کړو!

او د طبعیت آبی غېږې ته ورووځو؛

څادر وغوړو او ډډه ووهو او غوږ شو،

چې د طبیعت ستره کورنی:

مرغان، کبان، خځندې، چنجي، چونگښې او بادوباران...

او د غره له اوږو، را الوتې وږمه،

په‌خپله بې‌متنه ژبه، څه سندره وایي.

ښایي دا سندره، زموږ د زړه زاړه زخمونه را ټکور کړي.

اوریځ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داسې يوې خوښۍ انګازې زموږ له زړونو،

د چا غوږ ته ورځي!؟

## په دې سپين سهار

«لويه ډالۍ داده، چې ژوند راکړل شوی.

له دې وروسته، چې هرڅه سرته رسو، زموږ مسوليت دی.»

کاپي

## نن، برکت وګڼئ

زما انسان ورورهـ خورې!

نن تر ټولو بې‌جوړې ورځ ده.

زه، ته، هغه،

ټول هغه خبر- ښېګڼه، چې ټول عمر مو ځنډولې،

دا نن تر سره کولای شو!

نو؛

نن برکت وګڼئ!

او ژوند ته په نوي نظر او نوی هوډ راووځئ!

نوې ورځ، نوی فکر او نوی هوډ مو مبارک شه!

زما له‌خوا تاسو يوه يوه ته،

جلا جلا يوه يوه دښته،

يو اسمان ګلان ډالۍ.

تاسو هم کولای شئ هر انسان ته، (زړه‌ګلان) ډالۍ وبخښئ.

ځکه وايم نن بې‌جوړې ده.

## خالص زړه، طلايي زړه

«په خالص زړه، د خدای په لټه اوسه،

نو هغه به ومومې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مینه سرزوري غواړي

نوې ورځ، نوی سهار مو، د رڼاګانو په وربښتونو؛

او د ژوند د همیشنۍ سمفونۍ، په بېشمېره ریتمونو،

عطراګین واوسه!

کاش کولای مو شوای، یوازې دا نن ورځ،

یوه بل ته مینه ډالۍ کړو!

آه، کولای شو؛ خو که وغواړو!!!

نو لویه پوښتنه داده:

ولې نه‌غواړو- په پوره خلوص سره، یو بل ته مینه- لورینه ورکړو!؟

ځکه چې مینه، لیونتوب دی، سرزوري ده،

د ناپایه سمندرونو ماڼو کېدل دي،

تر (تیریچ‌میر) او (اورست)، لوړ څوکو غرونو تر پښو لاندې کول دي،

او دا تر انساني مروجه کارونو- عادتونو، پورته انسان غواړي؛

لکه زه، ته او هغه!

## زما له‌خوا سهارنۍ ډالۍ!

موږ کولای شو- پرته له دې، چې د هېڅ یوه ګل څانګه زخمي شي،

یوبل ته د ګلانو نالیدلې تازه ګېډۍ، ډالۍ کړو!

په اخلاص یوبل ته غېږې او لاسونه ورکول،

پر شونډو او ټنډو،

د خندا فصل را زرغونول او یوه ساده- خو له خلوص ډکه- «جان- قربان»،

یو بل ته نذرانه کول؛ تر ټولو عطراګین ګلان دي.

وګورئ، څومره شمتن یاستو؛

خو چې لږ زړه وکړو!

پام مو شو: مینه زموږ یوه یوه، ویده زړورتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د جمله‌ومخلوقات پلار

څه ښه وايي:

«روح تل په جاودانګۍ کې هستوګن دی.

روح تل په حال زمانه کې اوسي، او هستي يې هم ابدي ده؛

ځکه چې خدای وربانديې عاشق دی.»

نو ښه ورځ په دې ښستې ورغوئ:

زه نه؛ رحمان بابا فرمايی:

«دا دنيا ده خدای له عشقه پيدا کړې

د همه‌ومخلوقاتو پلار دی دا.»

### تلپاتې ژوند موندل

«روح، نه په ترلاسه کولو؛ بلکې په بخښلو، تلپاتې ژوند مومي.»

دغه حقيقت د ښه‌لو کلمو په کنډوليو کې واچوئ او ورپسې يې عمل ته راوباسئ!»

کاپي

### روانه تجربه خدای ته رسي

څه جالبه يې وېلې:

«د خدای په لور سفر، د ژوند حقيقت دی.

په بل عبارت دا يو سفر نه؛

بلکې روانه تجربه ده!»

کاپي

### د هرې شپې دعا

يوه يوه انسان او هر ژوندي او ټول ژوند ته،

خدايي مينه‌ورحمت، غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژوند له رنګه جوړ زړه، ذهن او حواس

څه ښه وايي:

«هغه څه، چې لټو یې،

د اسماني قلمرو په لاس راوړل دي.

یعني غواړو په دې فزیکي کالبوت کې، د اوسېدلو په ترڅ کې،

برتره اګاهي، یا خدایي هوښیاري، ترلاسه کړو.»

نو:

«د خدایي ارادې لهپاره پاکې وسیلې جوړېدلو لهپاره، اړتیا ده، چې تر وسه وسه،

پهخپل هر کار او چاره کې،

تر ټولو غوره واوسو.»

زړه، ذهن او حواس مو د ژوند له عشقه خمار واوسه!

## یو نوی پیل

دا د یوې نوې ورځې، نوي ژوند او نوي برخلیک پیل دی.

خو دا ټول به ستاسو له فکرونو، خیالونو، پنځېږي!

څنګه دا تومنه لرئ؟

لږ خپل زړه ته د غږ اوچتولو فرصت ورکړئ!

سپین زړه، د خدایي عشقورحمت جام دی.

دغه جام پر خپلو افکارو، حواسو وڅښئ!

که غواړئ جسمي، ذهني، عاطفي، رواني او مالي خوندیتوب ولرئ.

نو دا وضعیت ځانته مجسم کړئ.

د غږ سرلاری وایي:

«څه چې مجسموو، هغه حقیقت لري.» یعنی حقیقت مومي.

## مینه زړه، ذهن او ژوند تازه ساتي!

دا روانه نوې ورځ، نوی ژوند،

ځان او نورو لهپاره، یو نوی پیل وګڼئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعني هرڅه ته په ماشومانه معصومیت وګورئ!

څه ښه وایي: «هرکله، چې د ماشومانو په شان شئ.

نو د اسماني قلمرو-ښکلاوې به- ووینئ.»

په دې توګه به تېر زاړه فکرونه، ستاسو په وړاندې نهشي خنډ کېدلای،

او د «راتلونکې» په اړه هم هېڅ شی تاسو نهشي اندېښمنولای.

زړه، ذهن او حواس مو په مینه تازه اوسه!

## شپه او د پوهې د اوقیانوس لامبوزني

څومره مو ذهن تېز دی، چې بند دی نه وي، بندیخانې دې نه وي،

او بندي دې نه وي!

خو ایا کله مو دې ته هم پام شوی،

چې خپله خو به د خپلو ذهنیتونو او ذهني معلوماتو- باورونو؛

اسیران نه یاستو!؟

خوب یو فرصت دی، چې انسان،

ځان له ذهني- رواني سانسور دباندې ووینې!

په دې هیله، چې شپه مو له ذهني خیرو د ازادېدو،

او د سوچه پوهې په اقیانوس کې،

د یوه پوره غسل، فرصت واوسي.

## د ژوند ذهن

که کېدلای، چې ذهني زیرمې مو، د پسرلي په شنو شنیلو،

او غاټول دښتو،

او د آسماني زانګو، د زړونو په الوت،

تومنه کړي وای،

نو بیا به مو تاریخ، دا توره کتابچه نه ؤ!

وینښ باید اوسو؛ ځکه چې زموږ چاپېریال، زموږ د فکرونو او اندېښنو کرونده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ژوند د خدایي ارادې رنګین کتاب

هر ژوندی، د خدایي ارادې، د بې‌پایانه کتاب،

یو غبر- یوه کلمه دی.

هېڅوک، هېڅ موجود، عبث نه‌دی.

ځانته، بل ته،

او ټول ژوند ته،

د قدر په نظر وګورئ!

## له تاسو مې ځار کړې

له خپلو پاکو زړونو ټول هغه عطر،

چې ددې ژوبلې ژوبلې خاورې،

یوه یوه دردمن انسان ته،

مینه، لورینه، خواخوږي او خوشحالي ورکولای شي،

دباندې راوباسئ!

موږ او تاسو یو یو دې،

د مینې بهانده چینې واوسو!

## د زړه نذرانه

زما ښاغلو او اغلو!

تاسو یوه یوه ته،

یوه رڼه، لمرینه،

له ارامش، خوشحالۍ،

مینې او اګاهۍ،

ډکه ورځ او بخت غواړم!

## له ثمره ډک ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاپی:

«تاسو اروا یاست. ځانګړی او خاص.

نو پر ځان مهربانه اوسئ.

خدای سره مینه وکړئ.

او نورو ته هم مینه ورکړئ.

همدا دلیل دی، چې تاسو دلته یاست.

او دا ستاسو له زده‌کړې سره مرسته کوي.

نو خپلې شاوخوا ته نظر واچوئ او د ټولو برکتونو په‌خاطر،

منندوی واوسئ او شکر وکاږئ.

ډاډ ولرئ، چې دا ژوند له ثمره ډک دی...»

## هستي د خدايي مينې ستره کرونده

د زمانې سرې:

هغه ځوک چې د هر وګړي له‌پاره ددې فرصت شي،

چې په همدې ژوندانه کې،

«آزادي، خرد او مينې» ناپایه قلمرو کې هستوګنې،

ناپيدا لارې وپېژني او راه بلد شي.

هغه ټول ژوند سره مينه کوي.

خو هېڅ شی نه‌غواړي!

مینه، یعني د هرڅه ورکړه!

مینه د خدای ده او بې له څه ځنډه؛

له الهي سرچينو را اوري.

## خدای د اروا هرڅه

«مینه کول، خدای ته رسېدل دي.»

کاپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## روح د غرورنا بحر، لامبوزن

«د خدای رڼا، جهل له مینځه وړي

او د خدای غر، موږ (اسمان‌کور) ته رسوي.»

کاپي

## روح د خدايي ارادې سرتيرى

راځئ،

روانه شپه،

يوه يوه انسان ته،

يوې يوې اروا ته،

د مينې، ارامی،

روښنايي او بقا په هيله پيل کړو.

او ورسره په خوا کې،

ځانونه او ټول کارونه، خدايي ارادې ته وسپارو!

## يوه يوه ته يوه يوه دنيا مينه ډالۍ

ددغې نوې ورځې او تازه سهار په شکرانه کې به دغه طلايي کرښې ولولو:

«غرورنا، له خدای سره زموږ، د اړيکې مخامخ لارې دي.

هغه زموږ خلاقيت را روزي، څو خدايي مخلوقات شو.»

ليدلي مو دي چې کابل يو ځلانده او روښانه لمر لري؛ دا په رښتيا چې يوه نوې ورځ ده.

خو دا چې دا ورځ په څه ډول فکرونو، اندونو او خيالونو، عطراګينه کوو،

زموږ فردي کار دی.

زما له‌خوا تاسو ته- چې دغه شېبه- دغو بې‌سا کلمو ته، په‌خپلو مينه‌ګرو سترګو، ساه ورکوئ،

يوه دنيا رڼايي، آزادي او مينه ډالۍ!

## د خدای لټه د خدای له‌پاره

د حق لاروی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«خدای باید د خدای په‌خاطر ولټوئ،

او هیڅ مهال شخصي انګیزو ته پام ور غلط نه کړئ.»

## ټولو ته دعا!

لویه او بې‌نیازه خدایه! ستا مینه، ټولو ته کافي ده.

مرسته راسره وکړه، چې یو بل ته،

ستا د بې‌قیده او شرطه مینې خبرې،

ویناوې، لنډۍ او ټوله راکړه ورکړه، شو!

## خپله د خپلې خیالي دنیا غوره انسان یاست

ټولو ته زیری!

تاسو یوه یوه ته، یوه نوې ورځ درکړل شوې!

دا ورځ د خپل ټول عمر، په ترټولو بې‌جوړې ورځ، بدلولای شئ!

دا نن کولای شئ، هغه غوره «انسان» واوسئ،

چې ټول عمر مو ارمان ؤ او ارمان مو دی!

هو!

ددې پر ځای، چې انتظار شئ،

چې (احمد، قلبي، محمود یا...) هغه انسان جوړ شي،

خپله جوړ شئ!

دا انعام، دا عزت او دا ستروالی، چې خپله نه‌شئ او خپله جوړ نه‌شئ،

بل یو هم نه‌شي جوړولای او نه‌شي جوړېدای!

نو بسم الله کړئ!

## زما ژمنه

د هر فکر، وینا، دریځ او چلند پر مهال به، له ځانه پوښتم:

«ایا دا خو به د بل انسان‌ورور/ خور،

(سر، ازادي او مال) ته، تاوان نه وي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ یوه یوه هغه ارماني انسان؛

«زه یم. ته یې. هغه دی.» خو چې وغواړو!

څنګه؛ غواړو یې؟

هو! جار مو شم؛ غواړو یې!

## شپه او د لېرې زمکو باغستانونه

شپه مو، له آرامتیا او د زمان- مکان

هاغاړه جهانونو له مرغلینو تجربو ډکه اوسه!

شپه، د خوبونووخیالونو، د فصلونو تېوکېدلو موقع ده.

نو؛

لېرې خدایي زمکو- تاسو یوه یوه ته چمتو زمکو، ته بنه راغلاست!

## د خدایی مینې خواږه او اوبه رسول

ای د لیدلو او نالیدلو جهانونو عاشق سلطانه!

داسې له مینې ډک زړه او ذهني رڼایي،

او نور وس راکړه،

چې یوه یوه افغان او بل هر انسان-چې تا ژوند ورکړی-

او ټول ژوند ته،

ستا د بې‌شانه مینې، پوهې،

او معنوي ازادۍ،

اوبه او خواږه ورسوم!

## دا مې هم دعا ده

لویه خدایه!

غواړم ټولې هستۍ ته وقف واوسم!

غواړم د ټول روح له‌پاره

سوچه خوله او ژبه واوسم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هرچا او هرشي ته د مینې نظر

ټول- هغه که زموږ خوښېږي، یا نه خوښېږي- د خدای تعالی،

د بېقیده‌وشرطه مینې، په کښتې کې،

پیدا کېږي، پالل کېږي او د «ځان» و «خدای» له پېژندلو سره،

بېرته خپل خدایي ابدي کور ته، ستنېږي.

نو لویه خدایه!

وس راکړه، چې ټوله ورځ او هره ورځ،

ټول ژوند او ژوندو سره، د مینې نظر، وینا او چلند ولرم.

## سهارنی نذرانه

دا اوس مې پر دې کرښو سترګې را تازه شوې:

«اوس څه لرم، چې ویې بخښم؟

ډېری مهال، دغه څه د صبر، مینې او درک په څېر، ساده څه وي!»

## د خدای غوښتنې ته غاړه ږدم

ددې په ویلو کې هېڅ ستونزه نه‌شته، چې:

«خدایه! زما په حق کې، خپله غوښتنه سرته ورسوه!»

دا ډېره ښه خبره ده؛

ځکه چې د خدای غوښتنه- په هر حال کې- په پلي کېدلو ده.»

## ژوند، د خدایي ارادې ګلستان

نوې ژوند، نوې ورځ، یوازې همدا نن شونې ده!

خو دا څنګه کېدای شي؟

اسانه او ارزانه لار:

لویه خدایه! ژوند ستا د بېشانه ارادې رنګین ګلستان دی؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ژوندي انسانان، ستا د نوم ناپایه ترانې،

رنګارنګ غزل‌سرایان!

نو دومره وخت راکړه،

داسې فکروڅواک راکړه،

چې دریځ او کړه وړه مې،

د یوه یوه انسان، د (سر، ازادۍ او مال) خوندیتوب جهان جوړولو، ته ګټور شي!

## بقا په مینه کې

«هېڅ شکایت نه‌لرم؛
سترۍ ژوند، خدای پورې ستنېدلو زمانه ده.»
«بې‌مینې‌توب، شېبه شېبه ځان‌وژنه ده!»
«زه پر روح‌ځان، تاسو یوه یوه، او ددې ټولو په عاشق سلطان مین یم؛ مین واوسئ!»
(مینې اکادمیسن سهارنی مسبح)

## زه، د تیارو د سلطان ذهني هېواد!

خوب نه راته؛ له ځانه ناراضه، راپاڅېدم او ځان ته مې کړل: خدای چې شته؛ نو بل څه ډاډ غواړې!؟
دې سره په زړه د غېږورنا رحمت راواورېد:
«غواړم په مینه کې دې وسوځم؛ خاورې- ایرې شم!
د مینې څېره دې شم؛
د مینې اراده دې شم.
د نه بیانېدونکې مینې له‌پاره دې،
شعر شم، نثر شم،
مثنوي او د کوچۍ د خولې لنډۍ دې شم.
غواړم ټولې هستۍ کې، ستا پټه مینه ووینم او لاره و کنډولی یې شم.
او ددې ابدي جاري سپینې مینې،
د ترټولو ژوندي غزل‌وکتاب په توګه،
ټول ژوند ته شپېلۍ‌ورباب شم.
غواړم ستا او ستا له‌پاره، هرڅه واوسم؛ خو نه «زه»!
«زه» د تیارو د سلطان، مجسمه څېره ده، چې غواړي په دې نوم او شهرت،
د خدای حضور بل‌ځای، وښیي!
او دا د زړه‌وذهن، ناروغ باور وګرځوي!!
نه! ټول حقیقت ستا سمندر نوروکلام دی.
او «زه» پرته له ذهنه بل هېڅ قلمرو نه‌لري.
«زه-ایګو»، د تیارو د سلطان، مادي- ذهني هېواد دی!!
زه هېڅ نه یم او هېڅ نه‌شم کېدلای؛ پرته له دې چې د سپېڅلې ارادې له‌پاره دې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو توری (الف) واوسم.

□□□

**پر تاسو یوه یوه دې برکت وي!**

**نور بیا؛ که خدای تعالی غوښتي و.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**